د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت
د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۹/ صفر المظفر /۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۲/ سنبله /۱۴۰۳هـ، ش

# د اسلامي سياست ځانګړتياوي او ګټې

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ وَأَتَمُّ التَّسْلِيمِ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ النَّبِيِّينَ وَإِمَامِ الْمُرْسَلِينَ ، وَرَضِيَ اللَّهُ عَنِ الصَّحَابَةِ أَجْمَعِينَ وَعَنْ التَّابِعِينَ لَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ تَسْلِيمًا كَثِيراً، وَحَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ، أَمَّا بَعْدُ:

قال الله سبحانه وتعالى: {قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} آل عمران: (٢٦)

وقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ) .متفق عليه

د هغه وخت نه چې سيکولاريزم داسلام د مقدس دين ځای نيولی دی په نړۍ کې خلک او حتی مسلمانان يواځې کفري او شيطاني سياست ديموکراسۍ سره اشنا دي او اسلامي سياست چې تقريباً دولس سوه کاله يې په نړۍ کې حاکم ؤ د خلکو له اذهانو څخه غائب شوی دی او داسلامي سياست له جملې سره د نړۍ مسلمانان نا بلده شوي دي .

هغه وخت چې نړۍ له شرق څخه تر غرب پورې په اسلامي سياست اداره کيدله هغه وخت د تاريخ لـه پـاڼو پـاک شـوی دی.

هغه وخت چې يهوديان او نصرانيان د کليسا او ګرجيو په جبر او تور تـم کـې پراتـه ؤ او کمـزوری بـه د زورور خـوراک ؤ ، ورځنی ژوند به يې په غلاؤ، چور او چپاول، ډاکو اچولو تيرولو او ترشپاړسم ميلادي پورې په پيړيو پيړيو کې يې دجهل په څپو کې غوټې وهلی او علماء يې  په دې کې يې فکر کولو چې آيا ښځه مخلوق دی او که نه؟

هغه وخت چې د اسلامي سياست له برکته په اسلامي نړۍ کې د علم او پوهې پـه مـټ مسلمانانو اختراعـات درلـودل او دومره ترقي يې کړی وه چې کفار ورته ګوته په خوله پاتې ؤ دداسې پرمختګونو څخه عام مسلمانان ناخبره دي.

اسلامي سياست هغه وخت د اسلامي نړۍ څخه غائب شو چې کله علمانيت(سيکولاريزم) چې په حقيقـت کـې جاهليـت دی د کليسا د ظلم څخه آزادي واخيسته او پر نړۍ مسلط شو او دا شعار يې پورته کړ چې(لا سياسة في الـدين ولا ديـن في السياسة)

په دين کې سياست نشته او په سياست کې دين نشـته. او (فصـل الـدين عـن الدولـة) ديـن لـه دولت دارۍ څخـه جـدا وشميرل شو.

کله چې سيکولرانو دا آواز پورته کړ چې دين جدا شی دی او دولت جدا( ما کان لله، فلله،  وما کان لقيصر ،فَلقيصر) يعنې هغه څه چې دالله لپاره دي هغه به دالله لپاره وي -يعنې پر کليسا به واک دالله تعالی وي- او څوک چې دالله تعالی عبادت

کوي نو کليسا ته دې ولاړ شي او څه چې د قيصر لپاره دي -يعنې پاچاهي دقيصر حق دی- دا به د قيصر- لپاره وي او په دولت کې به دين ته د مداخلې اجازه نه ورکول کيږي.
ددنيا سياست د قيصر کار دی او ددين کار او دالله عبادت به په کليسا کې اجراء کيږي او په سياست کې به دين کار نلري.
يهود او نصارا چې د کليسا د ظلم او جبر او د جهالت څخه خلاص شول نو د عکس العمل په طور يې دين له سياست څخه جدا کړ او ځينو الحاد او لادينيت اعلان کړ.
مگر دوی په دې نه پوهيدل چې دين او دولت ، دين او دنيا دواړه د رب العالمين له خوا انسانانو ته ورکړل شوي دي او دواړه دالله جل جلاله د حکم او فرمان سره سم به په مخ وړل کيږي او بندگان مکلف دي چې دالله تعالی پر ځمکه دالله تعالی قانون حاکم کړي او دالله تعالی د قانون مطابق ژوند وکړي او اسلامي حاکمان په دې مکلف دي چې ددنيا چارې د الله تعالی د شريعت سره سمې عيارې کړي.
اسلامي سياست هغه وخت د مسلمانانو له فرهنگ څخه حذف کړل شو چې کله وضعي قوانينو د شرعي قوانينو ځای ونيولو او ديموکراسي په دنيا کې د کفارو له خوا د سياسي نظام په توگه مسلمانانو ته ور وپيژندل شوه چې ددې کار د کاميابۍ لپاره کفارو دعثماني خلافت د سقوط څخه وروسته په ټوله اسلامي نړۍ قبضه وکړه او ټولې وسيلې يې په کار واچولې ترڅو مسلمانان قانع کړي چې په کفري سياسي نظام کې ترقي ده، کاميابي ده او خوشحالي ده.
حال داچې کفري سياست په اباحيت، ماده پرستۍ، طبقاتي نظام، فيوډاليزم او الحاد باندې ولاړ دی.
کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ژوندی ؤ او داسلامي حکومت او دولت په رأس کې يې قرار درلود، د مسلمانانو د کارونو اداره او تدبير به يې په اسلامي سياست سره کاوه، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له نړۍ څخه رحلت وکړ خلفاء راشدينو په اسلامي سياست سره د مسلمانانو چارې مخ په وړاندې وړلې او د خلفاء راشدينو څخه وروسته اسلامي حاکمانو او اميرانو د شرق څخه پيل (اندونيزيا، ماليزيا، قاره هند، چين) تر غرب پورې( موجوده ايټاليا او آسپانيه او موجوده يونان پورې) پر مختلفو امتونو، مختلفو اديانو، مختلفو نژادونو حکومت کولو او ټول داسلامي سياست تابع ؤ او داسلامي حکومتونو ترسيوري لاندې يې په عدالت او امنيت کې ژوند کولو.
داسلامي سياست له برکته مسلمانانو په تجارت،عمارت، صنعت او د اختراعاتو په ميدان کې داسې پرمختگ کړی ؤ چې ځينو کفارو به ويل چې مسلمانانو په ساعت (گړۍ)کې پيری بند کړی دی او دا ساعت پيری چلوي.
داسلامي سياست په برکت سره مسلمانانو په علمي ميدان کې مختلف قسم انکشافات او اختراعات وکړل چې ترنن پورې کفري نړۍ د ابن سيناء، ابوبکر رازي،خوارزمي،ابن الهيثم، جابربن حيان، فارابي،البيروني، عباس بن فرناس، ثابت بن قره ...په څير د اسلامي علماوو پوره وړي دي.
مسلمانان هغه وخت داسلامي سياست څخه گوښه کړل شول چې کفارو په مستعمره ملکونو کې خپل لا دينيت ته مسلمانان په مختلفو بڼو سره دعوت کړل او کفر يې ورته د کاميابۍ د راز په طور تلقين کړ او دمسلمانانو څخه يې د هغوی دين ، تاريخ او تمدن له ياده وويستل او د مسلمانانو حالت داسې شو لکه څرنگه چې په ابتداء کې د يهودو، نصاراو ، روميانو، هندوانو، يونانيانو حالت ؤ.
اسلامي سياست هغه وخت د مسلمانانو له حافظې ووت کله چې دوی علم او جهاد ته شا کړه او دکفارو په تقليد کې اخته شول او عزت يې د کفارو په لاسونو کې ولټولو.

### د اسلامي سياست پيژندنه:

سياست -په کسرې د لومړي سين سره -عربي کلمه ده، په لغت کې د کارونو تدبير اواصلاح ته وايې او په اصطلاح کې :
( القِيامُ على الشّيْءِ بما يُصْلِحُه) تاج العروس من جواهر القاموس(١٦ /١٥٧)

ولاړیدل یو شی ته دي په هغه څه سره چې هغه لره اصلاح کړي.په حدیث شریف کې راځي:عن أبي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:(كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ،كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ) .متفق عليه

ترجمه:- دابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: ؤ بني اسرائیل چې د چارو سمبالښت یي پیغمبرانو کولو.کله به چې یوپیغمبر وفات کیده په ځای بـه یـی بل پیغمبر راتلو

امام نـووي ددې جملـې پـه: ( تَسُوسـهُمْ الْأَنْبِيَـاء ) پـه معنـا کـې وایـي: (أَيْ : يَتَوَلَّـوْنَ أُمُـورهمْ كَـمَا تَفْعَـل الْأُمَـرَاء وَالْـوُلَاة بِالرَّعِيَّةِ).یعنې د هغوی چارې به یې په غاړه اخیستې لکه څرنګه چې امراء او والیان یې د خپل رعیت سره کوي .

امام ابن نجیم رحمه الله دسیاست په تعریف کې وایي: (بِأَنَّهَا الْقَانُونُ الْمَوْضُوعُ لِرِعَايَةِ الْآدَابِ وَالْمَصَالِحِ وَانْتِظَامِ الْأَمْوَالِ وَالسِّيَاسَةُ نَوْعَانِ سِيَاسَةٌ عَادِلَةٌ تُخْرِجُ الْحَقَّ من الظَّالِمِ الْفَاجِرِ فَهِيَ من الشَّرِيعَةِ عَلِمُهَا من عَلِمَهَا وَجَهِلَهَا مـن جَهِلَهَـا وقـد صَنَّفَ الناس في السِّيَاسَةِ الشَّرْعِيَّةِ كُتُبًا مُتَعَدِّدَةً وَالنَّوْعُ الْآخَرُ سِيَاسَةٌ ظَالِمَةٌ فَالشَّرِيعَةُ تُحَرِّمُهَا). البحر الرائق (٥ /٧٦)

ترجمه:- سیاست دا هغه قانون دی چې وضع شوی دی د آدابو او مصالحو د رعایت لپاره او دمالونو د انتظام لپاره.

او سیاست په دوه ډوله دی یو عادل سیاست دی چې راوباسي حق د ظالم فـاجر څخـه، نـو دا دشریعت برخـه ده ددې سیاست علم د شریعت علم دی او په دې سیاست ناپوهي په شریعت ناپوهي ده او خلکو په شرعي سیاست کې مختلف کتابونه لیکلي دي.

او بل ډول ظالم سیاست دی چې شریعت هغه حرام ګرځوي.

امام بجیرمي شافعي وایي:( وَهِيَ إصْلَاحُ أُمُورِ الرَّعِيَّةِ، وَتَدْبِيرِ أُمُورِهِمْ) حاشية البجيرمي التجريد لنفع العبيد (٢ /١٧٨)

ترجمه:- سیاست درعیت د چارو اصلاح او د هغوی د کارونو تدبیر کول دي.

امام ابن خلدون د اسلامي سیاست د حقیقت په اړه وایي:( فهي في الحقيقة خلافة عن صاحب الشرع في حراسة الدين وسياسة الدنيا به). مقدمة ابن خلدون (ص ٩٧) .

ترجمه:- سیاست په حقیقت کې د صاحب شرع څخه استازیتوب دی په ساتنه ددین کې او په تدبیر ددنیا کې.

نو د ذکر شوو تعریفونو څخه په ډاګه معلومیږي چې اسلامي سیاست داسلام جزء لا یتجـزأ دی او داسـلامي سیاسـت او دین ترمنځ هیڅ توپیر نشته؛ بلکې اسلامي سیاست د شرعي احکامو د تطبیق او د بندګانو د کـارونو داصـلاح پـه اړه لازم تدابیر نیولو څخه عبارت دی.

په شریعت کې اسلامي سیاست د شریعت تابع دی او اسلامي سیاست د شرعي حدودو څخه تجـاوز نکـوي او اسـلامي سیاست په شریعت پورې مقید دی او په اسلامي سیاست کې دشرعي لارښوونو او هدایاتو په رڼاکې کړنې ، تصـامیم او کارونه ترسره کیږي او په اسلامي سیاست کې داسې کړنه جواز نلري چې دشریعت سره په ټکر کې وي بلکې ددنیوي او اخروي مصالحو تدبیر او سمبالول به داسلامي شریعت په رڼاکې ترسره کیږي.

په یو بل عبارت سره د ټولنې د مصالحو جلبول او له ټولنې څخه د مفاسدو دفع کولو ته اسلامي سیاست ویل کیږي.

## د اسلامي سیاست ځانګړتیاوې او ګټې په لاندې ډول دي:

۱- اسلامي سیاست لومړنۍ ځانګړتیا داده چې اسلامي سیاست رباني او شرعي سیاست دی. د اسلامي سیاسـت مصـدر الهي دی دا په دې معنا چې داسلامي سیاست شرعي مصدر الله سبحانه وتعـالی دی، اسـلامي سیاسـت یـا خلافـت یـې انسانانو ته د وحی په ذریعه ور ښوولی دی ددې وجی نه اسلامي سیاست ته (السیاسة الشرعیة) ویل کیږي -چې پـه دې اړه علماوو زیات کتابونه لیکلي دي- او اسلامي سیاست الهي شریعت ته ځکه منسوب دی، چې د اسلامي سیاست منبـع اسلامي شریعت دی. د همدې امله په اسلامي سیاست کې د اسلامي شریعت حفاظت د اسلامي نظام په غاړه دی.

بل داچې اسلامي سیاست یو دیني وجیبه او مسئولیت دی او شرعي مکلفیت دی او پر انسانانو شرعاً د ولي الأمر، خلیفه او امیر المؤمنین ټاکل فرض دي.علامه کاساني رحمه الله لیکلي دي:(وَلِأَنَّ نَصْبَ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ فَرْضٌ بِلَا خِلَافٍ بين أَهْلِ الْحَقِّ).ذلك بدائع الصنائع (۷/ ۲)

ترجمه:- او بل داچې دامام اعظم نصبول او ټاکل فرض دي بدون د اهل حقو د اختلاف څخه.

بناءً ویلی شو چې اسلامي سیاست په دوه شرطونو پورې مقید دی او هغه داچې په ټولو سیاسي تصرفاتو کې دا شرط ده چې د شریعت سره به موافق وي یا به د شریعت څخه مخالف نه وي.

دوهم شرط دادی چې ټول سیاسي تصرفات به د مصالح العباد والبلاد په خاطر وي.

۲- د اسلامي سیاست بله ځانګړتیا داده چې اسلامي سیاست د شریعت او ددین د مقاصدو حفاظت کوي چې مقاصد شریعت د حفظ الدین، حفظ النفس، حفظ العقل ، حفظ النسل او د حفظ المال څخه عبارت دی.

په اسلامي سیاست کې دشریعت ددغو پنځو مقاصدو حفاظت پر ولي الأمر باندې فرض دی او ددې د حفاظت لپاره ورباندې فرض دي چې د الهي حدودو او دقصاص حکمونه په مجرمینو باندې تطبیق او نافذ کړي.

خو په نورو سیاستونو کې د دین، عقل او نسل حفاظت شتون نلري بلکې دا د انسان شخصي کارونه دي او په سیاست پورې تړاو نلري او شراب څښل چې عقل زائلوي، د ښځې په رضایت سره زنا کوم جرم نه دی، ددین څخه انکار دانسان شخصي۔ کار دی چې دین مني او که نه یې مني.

۳- د اسلامي سیاست ځانګړتیا د قوانینو او احکامو له پلوه. اسلامي سیاست په دوه ډوله مسائلو او قوانینو ولاړ دی چې یو یې منصوصي او ثابت احکام دي چې په ټولو زمانو، حالاتو او شرائطو کې دي او تغیر نه قبلوي او په اسلامي سیاست کې امیر او شرعي حاکم ددغو مسایلو او حکمونو پر تطبیق مکلف دی.

دوهم ډول اجتهادي احکام او مسائل دي چې د زماني ، حالاتو ، شرائطو ته په کتو سره قابل تغیر دي چې دمجتهد حاکم او ولي الامر یا مجتهدینو او مفتیانو د فتواګانو څخه عبارت دی چې د شرعي مصادرو څخه یې استنباطوي او بیا دنظام د تنفیذي قوی له خوا تطبیقیږي چې دا ډول مسایل او قوانین هم شریعت ته راجع کیږي او په اسلامي سیاست کې حالاتو ، زمانو او شرائطو ته په کتو سره قابل تغیر دي، چې دا ځانګړتیا په غیر اسلامي سیاستونو کې نشته بلکې په غیر اسلامي سیاستونو کې قوانین او حکمونه د خلکو داکثریت په خوښه ټاکل کیږي او تطبیق کیږي.

۴- اسلامي سیاست هدف دټولنې د دنیوي او اخروي مصالحو ترلاسه کول او له ټولنې څخه د هر ډول مفاسدو دفع کول دي او په اسلامي سیاست کې دامت لپاره هغه موقف غوره کیږي چې د امت دحمایت لپاره اصلح وي پرته له دې چې د شریعت اصول تر پښو لاندې شي، چې دا بعَینِهِ د اسلامي شریعت د احکاماتو هدف دی.

شیخ الاسلام عزبن عبدالسلام وایي: (فإن الله تعالى أرسل الرسل وأنزل الكتب لإقامة مصالح الدنيا والآخرة ودفع مفاسدهما ....من مارس الشريعة وفهم مقاصد الكتاب والسنة علم أن جميع ما أمر به لجلب مصلحة أو مصالح أو لدرء مفسدة أو مفاسد وأن جميع ما نهي عنه إنما نهي عنه لدفع مفسدة أو مفاسد أو جلب مصلحة أو مصالح). القواعد الصغرى (ص: ۳۲، ۵۳)

ترجمه:- بیشکه الله تعالی رسولان رالیږلي دي او کتابونه یې نازل کړي دي د دنیوي او اخروي مصالحو داقامې لپاره او ددنیوي او اخروي مفاسدو ددفع کولو لپاره. ...څوک چې په شریعت پوهه وي او دکتاب الله او سنت مقاصدو باندې یې علم حاصل کړی وي، په دې به پوه شوی وي چې بیشکه ټول هغه څه چې شریعت ورباندې امر کړی دا د مصلحت او یا مصالحو د جلبولو او د مفسدې او مفاسدو ددفع کولو لپاره دي او ټول هغه څه چې شریعت ورڅخه منع کړی ده، بیشکه منع شوی ده د مفسدې او مفاسدو ددفع کولو لپاره او یا د مصلحت او مصالحو دجلبولو لپاره .

شرعي حاكم او ولي الامر کولای شي چې د تجربې له مخې د رعيت د مصالحو او مفاسدو په اړه د شريعت د روح سره سم تصميم ونيسي او چارې يې ترتيب کړي؛ ځکه چې اخروي مصالح او مفاسد په شريعت سره پيژندل کيږي او دنيوي مصالح او مفاسدو په تجربه سره پيژندل کيږي. شيخ الاسلام عزبن عبدالسلام رحمه الله ليکي:( ولا يعرف مصالح الآخرة ومفاسدها إلا بالشرع ويعرف مصالح الدنيا ومفاسدها بالتجارب والعادات). القواعد الصغرى (ص: ٤١)ترجمه: او نه پيژندل کيږي اخروي مصالح او اخروي مفاسد مگر په شريعت سره او پيژندل کيږي دنيوي مصالح او مفاسد په تجربه او عادت سره.

خو په غير اسلامي يا کفري سياست کې د مصالحو او مفاسدو موضوع هيڅ مطرح نه ده؛ بلکې هر هغه څه ته اعتبار دی چې عام خلک يي اشتهاء لري او خوښ يې گڼي لکه قمار،د خنزيرخوړل، د شرابو څښل او د زنا کول او که مصالح په نظرکې نيول کيږي هغه مصالح په نظر کې نيول کيږي چې دکفري نړۍ په خير وي ولوکه حقيقتاً عظيم شر او فساد وي لکه د کفري نړۍ کفري سياست د غزې د مسلمانانو په اړه.

٥- داسلامي سياست بله ځانگړتيا داده چې په اسلامي سياست کې چوکۍ او منصب يو مسئوليت گڼل کيږي . په اسلامي سياست کې ولي الامر او نور حاکمان منصب ته د منصب په سترگه نه گوري بلکې منصب ته د مسئوليت په نظر گوري او تل په دې ويره کې وي چې په ورسپارل شوي مسئوليت کې د افراط او تفريط په صورت کې به د الله تعالى په وړاندې جوابگو يم او الله تعالى به راڅخه د رعيت په اړه پوښتنه کوي.په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَهْوَنَ الْخَلْقِ عَلَى اللهِ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ شَيْئًا فَلَمْ يَعْدِلْ فِيهِمْ» .حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٤ /١٥)

ترجمه:- د ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه تر ټولو سپک مخلوق د الله تعالى په نزد هغه څوک دی چې د مسلمانانو د کوم کار د څه شي مسئوليت په غاړه واخلي او بيا په هغوی کې عدالت ونکړي.

په يو بل حديث شريف کې راځی: عَنْ بِنْتِ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِيهَا مَعْقِلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ وَلِيَ أُمَّةً مِنْ أُمَّتِي، قَلَّتْ أَوْ كَثُرَتْ، فَلَمْ يَعْدِلْ فِيهِمْ، كَبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي النَّارِ» المعجم الأوسط) ٦ /٣٦٥)،المعجم الكبير للطبراني (٢٠ /٢٢٢)

ترجمه:- د معقل بن يسار د لور د خپل پلار معقل بن يسار څخه روايت نقلوي چې د هغې پلار وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې په غاړه واخلي (مسئوليت) د يو جماعت زما د امت څخه کم وي او که زيات او بيا د هغوی ترمنځ عدالت نه وکړي نسکور به واچوي الله تعالى هغه لره په جهنم کې.

دحضرت عمر رضي الله ښځه عاتکه رضى الله عنها دحضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په باره کې وايي: (كان يأتي إلى فراشه لينام فيطيرُ منه النوم، فيجلس ويبكي ! فأقول له: ما لك يا أمير المؤمنين؟ فيقول: توليت أمر أمة محمد صلى الله عليه وسلَّم، وفيهم المسكين والضعيف واليتيم والمظلوم، وأخشى أن يسألني الله عنهم يوم القيامة).

ترجمه:- حضرت عمر رضي الله عنه به خپل فرش ته راغلو چې ويده شي نو خوب به ورڅخه والوتلو ، کيناسته به او ژړل به يي، ما به ورته وويل: څه خبره ای امير المؤمنينه! راته به وويل: ما د محمد صلى الله عليه وسلم د امت چارې په غاړه اخيستي دي او په دوی کې مسکين شته، ضعيف شته ، په دوی کې يتيم شته ، په دوی کې مظلوم شته، او زه ويريږم ددينه چې داسې نه چې پوښتنه وکړي الله تعالى ددی په باره کې زما څخه د قيامت په ورځ.

٦- په اسلامي سياست کې دمسلمانانو امير او حاکم د الله تعالى له لورې پر بندگانو دخليفه حيثيت لري او . او اسلامي حاکم دنده دالله تعالى د حکمونو نافذول دي. {وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا

اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ}النور: (٥٥)

ترجمه:- الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی، چې تاسو یئ او نېك عملونه یې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دین ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي

**۷-** په اسلامي سیاست کې امیر او ولي الامر ددوه معتبرو لارو څخه ټاکل کیږي لومړی داهل حل او عقد په بیعت سره او دوهم د مخکني امام یا ولي الامر په وصیت او استخلاف سره او دضرورت په وخت کې په غلبه او شوکت سره هم ټاکل کیدای شي؛ چې په غیر اسلامي سیاستونو کې د ولي الأمر په ټاکلو کې هر قسم خلک برخه اخلي لکه فاسقان، جاهلان، شراب خواره، غله ، فیوډالان، او د مافیاباندونه ترڅو د دي په ټاکنه کې د هغوی مصالح تامین کړي چې نن صبا په کفري نړۍ کې دپاچا او زعیم په ترشیح او ټاکلو کې زیات واک د استخباراتي او استبدادي شبکو وي ترڅو هغه څوك په واک کې راولي چې کومې سیاسي او نظامې پروژې چې په نظرکې دي د هغه په لاس یې ترسره کړي.

امام ماوردي رحمه الله لیکلي دي: (والإمامة تنعقد من وجهين: أحدهما: باختيار أهلِ العَقْدِ والحَلِّ. وَالثَّاني: بِعَهْدِ الْإِمَامِ مِنْ قَبْلُ). الأحكام السلطانية للماوردي (ص: ٢١)

ترجمه:- او امامت (اعظم) منعقد کیږي په دوه لارو سره . لومړی: د اهل حل او عقد په ټاکلو سره . دوهم: په سپارلو او عهد د لومړني امام سره.

**۸-** اسلامي سیاست هغه سیاست دی چې په الله تعالی ایمان لري.

**۹-** اسلامي سیاست هغه سیاست دی چې امر بالمعروف او نهی عن المنكر کوي او دالله دین ته خلک رابلي او په دې لاره کې د هیڅ ډول ملامتیا څخه نه ویریږي.

**۱۰-** اسلامي سیاست هغه سیاست دی چې خپلو ټولو پیمانونو، معاهداتو او تړونونو ته ژمن دی او په خپلو وعدو کلك ولاړ دی ولو که دا معاهدات له دښمن سره هم وي. کومې وعدې چې له ملت سره کوي هغه په ربښتیا سره کوي او کوم معاهدات چې ددښمن سره کوي پر خپله معاهداتو ترهغې کلك ولاړ وي ترڅو جانب مقابل معاهده نه وي ماته کړی.

**۱۱-** اسلامي سیاست واقعي سیاست دی او کوم خیالي ، وهمي او د خوبونو لیدلو سیاست نه دی. د کوم کار چې ترتیب راونیسي هغه سرته رسوي او په ښه شان یې ترسره کوي.

**۱۲-** اسلامي سیاست اسلامي امت د ژوند لوړې مرتبې او پرمختګ ته رسوي برابره خبره که هغه په سیاسي میدان کې وي، که په اقتصادي میدان کې وي او که هغه په امنیتي برخو کې وي.

## داسلامي سیاست ګټې او فواید:

**۱-** اسلامي سیاست د حاکم او رعیت ترمنځ علاقه تنظیموي په هغه شان سره چې شریعت یې امر کړی دی.

**۲-** اسلامي سیاست د اسلامي امت او اسلامي دولت هیبت او د قوت حفاظت کوي او په امت کې د عزت او کرامت روح تقویه کوي او د ټولو امتونو په سر کې یې دروي.

**۳-** اسلامي سیاست د اسلامي امت او ټولنې څخه ساتنه او حفاظت کوي؛ که څه هغه روحي وي اوکه سیاسي وي او که اجتماعي وي اوکه اخلاقي وي.

**۴-** اسلامي سیاست د امت د ژوند لپاره مختلف پلانونه لري ترڅو اسلامي امت د ښه حالت څخه منقل کړي ډېر ښه حالت ته او له هغې څخه ډېر عالي حالت ته منتقل کړي تر هغې پورې چې خپل ورک شوی برم، عزت اود لاسه تللی پرمختګ ورته بیرته په تحفه کې راوړي.
**۵-** اسلامي سیاست د ولي الأمر د ارمانونو د پوره کولو او خپلو هدفونو ته د رسیدو غوره وسیله ګڼل کیږي پرته له دې چې د کوم شرعي مخالفت سره مخ شي او د اسلامي حاکم لپاره په آخرت کې کامیابي تضمینوي.
**٦-** اسلامي سیاست د هوښیار او حاذق فقیه لپاره ددې زمینه برابروي ترڅو له نظام سره مرسته وکړي او په خپلو صحیحو فتواګانو او اجتهاداتو سره د رعیت مشکلات حل او فصل کړي او مخکې تللو حرکت ته لاره هواره کړي.
**۷-** اسلامي سیاست د حاکم، فقیه او مفتي لپاره بدیلې لارې لټوي که چیرې د حاکم فیصله او د مفتي فتوا د شریعت له روح سره برابری نه درلود او ددین مقاصدو تحقق نه موندلو.
**۸-** اسلامي سیاست حاکم او مفتي یواځې په نص پورې محدود نه ساتي بلکې حاکم ته داسې باب برسیره کوي چې د ټولنې مصالح لاسته راوړي او مفاسد له منځه یوسي په دې شرط چې دصریح نص سره په ټکر کې نه وي لکه د تعزیر باب په هغو موضوعاتو کې چې نص په کې نه وي.
**۹-** اسلامي سیاست له ټولنې څخه د ټولو مفاسدو ټغر ټولوي او مصالح العباد والبلاد رامنځ ته کوي.
**۱۰-** اسلامي سیاست د اسلامي امت لپاره عزت او کرامت رامنځ ته کوي او داسلامي امت حدود او ځمکې ساتنه کوي او دنړی له دولتونو سره حسنه روابط ټینګوي.